

# اجباري معلوماتي غونډه

د سرپرستۍ، استوګنې او د اولاد سره د مور او پلار د لیدنې کتنې قانوني حق ته اړونده شخړو په وخت د اجباري معلوماتي غونډې د قانون په اړه تاسو والدینو ته لنډ معلومات

MYNDIGHETEN FÖR
FAMILJERÄTT OCH
FÖRÄLDRASKAPSSTÖD

# د ماشوم د ګټو خوندیتوب په پار یوه غونډه

د مور او ملار ترمینځ جدایي، خصوصاً کله چې ماشومان په قضیه کې شامل وي، ډېر کم په ساده ډول ترسره کېږي.

د ماشوم د سرپرستۍ په اړه د قضایي پروسې په بهیر کې د ماشومانو د حقوقو څخه د دفاع روحیه پیاوړه کولو په موخه حکومت پریکړه کړې ده چې د 2022 کال د جنورۍ د 1 نېټې څخه د معلوماتي غونډې په اړه یو قانون وضع کړي. دا په دې معنی ده چې هغه والدین چې په محکمه کې یوه دعوی اقامه کولو په فکر کې وي، باید په لومړي پړاو کې د هغه مرستې او ملاتړ په اړه معلومات ترلاسه کړي چې قضیه د محکمې د چوکاټ څخه دباندې حل او فصل کولو په موخه خلکو ته ورکول کېږي.

دا قانون د ماشوم د ګټو د خوندیتوب په موخه او په دې هیله وضع شوی دی چې دا معلوماتي غونډه به په اکثره قضیو کې والدینو سره د خپلو شخړو حل کولو لپاره محکمې ته د رجوع نه کولو په برخه کې مرسته وکړي

په راروانو مخونو کې د معلوماتي غونډې په اړه نور معلومات لوستلای شئ. د دې معلوماتو لوست زیات نه زیات پنځه دقیقې وخت نیسي او کېدای شي تاسو سره د حل ترتېولو آسانه لاره موندلو کې مرسته وکړي



ځينې وختونه د سرپرستۍ، استوګنې او د اولاد سره د مور او د ليدنې کتنې قانوني حق په اړه مباحثې کېدای شي بې نتيجې پای ته ورسېږي او يا د شخړې لامل شي چې په دې کې ماشومان کېدای شي قرباني شي اګرچه مور او پلار هيڅ کله دا نه غواړي چې خبرې دې حد ته ورسېږي.



# د معلوماتي غونډې په اړه لنډ معلومات

## دا نوی قانون موږ والدینو لپاره څه معنی لري؟

د معلوماتي غونډې قانون د کال 2022 د جنوری د 1 نېټې څخه واجب الاجرا شو خو د کال 2022 د مارچ د 1 نېټې څخه راپدېخوا دا اضافي شرط هم اینبودل شوی دی چې هغه کس چې په محکمه کې یوه دعوی اقامه کوي باید له مخکې یې په یو معلوماتي غونډه کې ګډون کړی وي.

د دې غونډې د ترتیبولو مسئوولیت د کمون په غاړه دی او والدینو لپاره ګډون وړیا دی.

## آیا دا خطر وجود نه لري چې دا به زموږ لانجه نوره هم اوږده کړي؟

معلوماتي غونډه باید ژر تر ژره او ستاسو لخوا د دې غونډې د غوښتنو د نېټې څخه د څلورو اونیو دننه ترسره شي.

په لومړي کام کې تاسو ته یوه مشترکه غونډه وړاندیز کېږي. که چېرې خاص دلایل وجود ولري (د مثال په توګه د تاوتریخوالي او د زور زیاتي نور ډولونو د ارتکاب شک موجود وي) نو په داسې حالت کې انفرادي غونډې هم ترتیب کېدلای شي. که چېرې تاسو څخه کوم یو د انفرادي غونډې غوښتنه لري نو په داسې صورت کې هم انفرادي غونډه ترتیب کېږي.

## د معلوماتي غونډې موخه څه ده؟

د دې غونډې مقصد دا دی چې تاسو والدینو ته د سرپرستی، استوګنې او د اولاد سره د مور او پلار د لیدنې کتنې قانوني حق ته اړونده مسائلو کې د حل موافقت آمیزه لارې مونډلو امکاناتو په اړه معلومات درکړل شي. هیله دا ده چې شخړه په محکمه کې د حل او فصل کېدو مخه ونیول شي.

دا چې والدین یو توافق ته ورسېږي اکثره د ماشوم لپاره د یو آرام او خوندي وضعیت سبب ګرځي. د حل یوه موافقت آمیزه لاره دوامداره هم وي ځکه چې والدین په خپله ډاډ ترلاسه کوي چې د ماشوم د سرپرستي، استوګنې او د مور او پلار سره د لیدنې کتنې بهیر په موثره توګه روان وي.

# هغه پوښتنې چې د معلوماتي غونډې په ترڅ کې يې ځواب ترلاسه کوئ

د حل يوه موافقت آميزه لاره موندلو په بهير کې او قضايي پروسې پرته قضيه حل او فصل کولو په موخه کوم ډول مرسته ترلاسه کولای شو؟

که چېرې موږ يوې موافقې ته ورسيږو نو څنګه موافقه څرنګه په ليکلي بڼه ترتيب کړو ترڅو په راتلونکي کې د سوء تفاهم مخه ونيول شي؟

که چېرې توافق ته ونه رسيږو نو څه پېښيږي؟

که چېرې زموږ په اړيکه کې ګواښ يا زور زياتی رامنځته شوی وي نو زه يې څه چاره کولای شم؟

د ماشوم په روزنه کې د همکارۍ په اړه غونډه څه ته وايي او د دې غونډې او د عايلي مسائلو په اړه د سلامشورې غونډې ترمنځ توپير څه دی؟

د مور او پلار ترمنځ شخړه او يوه قضايي پروسه په ماشوم څه اغيزه لري؟

په قضايي پروسه کې کوم کارونه ترسره کېدای شي؟

که چېرې موږ غواړو چې بيا هم محکمې ته مراجعه وکړو نو څه بايد وکړو؟

قضايي پروسه څومره وخت نيسي؟

د قضايي پروسې په دوران کې څوک ما سره مرسته کولای شي؟

آيا د محاکمې د لګښت په برخه کې د کوم ډول مالي مرستې ترلاسه کولو امکانات شته دی؟

عبوري پرېکړه څه ته وايي؟

کوم پلټنې ترسره کېدای شي؟

که چېرې زه د محکمې د پرېکړې څخه راضي نه يم نو د استيناف غوښتلو کوم امکانات شتون لري؟




MYNDIGHETEN FÖR
FAMILJERÄTT OCH
FÖRÄLDRASKAPSSTÖD
د نورو معلوماتو لپاره دې وبپاڼې ته رجوع وکړئ
www.mfof.se/informationssamtal